ژباړه: سمسور ودان ٢٠٢٢/١٢/٢٢

# قران کریم او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم

## د پنځو کافرو عالمانو په اند

**د کیبون له نظره:**

د اقیانوس اطلس نه نیولې د ګنګا د رود تر غاړې پورې یوازې دا نه چې قران کریم فقهي قانون پېژندل شوی دی، بلکې دا د قانون یوه داسې مجموعه ده چې قضايي رويه، مدني او جزايي اصول، د بشر مالي امور، حتی د بنیادم ټول کارونه اداره کوي او دغه ټول امور چې د قران کریم د ثابتو او نه بدلېدونکو احکامو له مخې اداره کېږي، بېشکه چې د خدای جل جلاله له ارادې نه پیدا شوي دي .
په بل عبارت قران کریم د مسلمانانو عمومي او اساسي قانون دی، داسې چې پر ټولو قوانینو بشپړ دی. هغه که دیني وي که اجتماعي، مدني وي که تجارتي، نظامي وي که قضايي، حیاتي وي که جزايي او د بشر د ورځنۍ ګذارې نه نیولې ان تر فردي او اجتماعي حقوقو، فردي او اجتماعي منافعو پورې، اخلاقیات، جنایات، د دې جهان مکافات او ان د هغه جهان تر عذاب او مکافاته پورې ټول پکې بنودل شوي دي.

**د تولستوی له نظره:**

که څوک غواړي چې د اسلامي دیني مساهله او ساده ګې ځانته معلومه کړي؛ نو قران کریم دې په غور او دقت سره مطالعه کړي
ځکه چې په دغه مقدس کتاب کې هغه حقایق په پوره وضاحت او صراحت سره ښودل شوي دي چې د اسلام عالي مقام او د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د شخصیت لوړوالی او د ده د روح نهایي تقدس او پاکي ترې څرګندیږي.

**د کارلایل له نظره:**

د انسانیت د دوستۍ، ورورولۍ، برابرۍ او ازادۍ غږ دی چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم له پاک زړه نه راوتلی او اوچت شوی دی.

**د پوشکین له نظره:**

د معنی تنده او تلوسه راسره وه، په چوپه او غلي بیدیا کې لالهانده ګرځېدم. هغه پرښته چې شپږ وزرونه لرل له پاسه راکوزه شوه او خپلې ګوتې یې چې له خوب او خیاله سپکې وې، زما سترګو ته رانیږدې کړې. ما د وارخطا ګربتي غوندې خپلې سترګې پرانیستې .
د هغې لاس زما د غوږونو له څنګه تېر شو، زما په غوږونو کې ناڅاپه یو مرموز اواز پیدا شو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

همدغه وخت ما د اسمان د زړه د درزېدو اواز واورېده، د دریاب تر موجونو لاندې مې د بحري حېواناتو تګ راتګ ولیده .
د کور په بوټو کې مې د تاک څانګې او پاڼې لیدې چې وده کوي او لوییږي، پرښته زما شونډو ته رانیږدې شوه، زما هغه ژبه یې را نه پرې کړه چې کار یې نېش وهل وو.
بیا یې پخپلو لاسونو چې په وینو لړلي وو، یوه بله ژبه زما په خوله کې کېښوده.
زما په ځیګر یې تېره توره ومنډله، زما رپېدونکی زړه یې راوایست او اور سوځوونکې لمبه یې زما په سینه کې ننوېستله.
زه د یوه مړي په شان غلی او بې حرکته د بیابان په شګو کې پرېوتم. دغه وخت مې ناڅاپه خدایي غږ تر غوږه شو، چې ما ته یې ویل: پاڅېږه! سترګې وغړوه، د خدای فرمان ته غوږ ونیسه او د اجراء له پاره یې سمدلاسه روان شه. له بیابانونو او دریابونو نه تېر شه، پخپلو اور پېنتو خبرو د ایمان اور د خلکو په زړونو کې بل کړه.

**د ویکتور هوګو له نظره:**

هغه (حضرت محمد صلی الله علیه وسلم) پوهېده چې عمر وروستی سلګی ده او د ژوند رڼا لکه د مازدیګر زېړی لمر د رنګ ساعت ته له سترګو پناه کیږي.
دی به تل په فکر ډوب و او په هیچا به یې پړه نه اچوله .
چې په لاره به روان و، له هرې خوا سلامونه پرې وېل کېدل .
ده به هم هر چا ته په مهربانی ځواب وایه .
په ږیره کې یې شل وېښتان سپین نه لیدل کېدل او زهیرتیا یې ورځ تر ورځ زیاتېده.
کله به چې اوښانو اوبه څښلې، دی به ورته ودرېده او هغه ورځې به یې په زړه ګرځېدې چې ده به د خپل تره اوښان څرول.
هر وخت به د خدای په درګاه کې په راز او نیاز مشغول و.
خوراک یې بیخي لږ و او ډېر ځله به یې په نس پورې تیږې تړلې .
پخپل لاس به یې خپلې مېږې لوشلې.
چې جامې به یې وشلېدلې، په ځمکه به کېناسته او خپل کالي به یې پخپله ګنډل .

ژباړه او راټولونه: سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځېر و لولئ